# دَ یوحنا رسُول اول خط

## دَ ژوندُون نُور

١ ﴿١﴾ مُونږ تاسو ته دَ ژوندُون ورکوُونکی کلام په باب کښے لیکُو چه هغه له ازل نه
موجُود وو اَؤ چه مُونږ واؤریدو اَؤ مُونږ په خپلو سترګو ولیدلو. مُونږ ئے ننداره وکړه اَؤ
خپل لاسُونه مو پرے ولګول اَؤ مُونږ دَ دے په حقله اوس درته وایُو. ﴿٢﴾ دا ژوند مُونږ ته
ښکاره کړے شوے وو اَؤ مُونږ لیدلے دے، مُونږ ئے ګواهی کوُو. مُونږ دَ هغه تل
ژوندُون چه دَ خُدائے پلار سره وو اَؤ مُونږ ته ښکاره کړے شوے دے تاسو پرے
خبروُو. ﴿٣﴾ څهٔ چه مُونږ لیدلی اَؤ آؤریدلی دی، په هغو تاسو خبروُو دَ دے دَ پاره چه
تاسو راسره شراکت ولرئ اَؤ مُونږ دَ خُدائے پلار اَؤ دَ هغهٔ دَ زوی عیسیٰ مسیح سره
شراکت لرُو. ﴿٤﴾ دا مُونږ ځکه لیکُو چه زمُونږ خوشحالی پُوره شی.

## خُدائے نُور دے

﴿٥﴾ دا هغه پیغام دے چه مُونږ دَ مسیح نه واؤریدلو اَؤ تاسو پرے خبروُو چه خُدائے
نُور دے اَؤ په هغهٔ کښے هیڅ تیارهٔ نِشته. ﴿٦﴾ که چرے مُونږ په خُلے دا اووایُو چه هغهٔ
سره شراکت لرُو خو په تیارو کښے ګرزُو نو بیا مُونږ دروغژن یُو اَؤ په حق عمل نهٔ
کوُو. ﴿٧﴾ خو که مُونږ په نُور کښے ګرزُو لکه څنګه چه هغه په خپله په نُور کښے دے
نو بیا مُونږ په خپلو کښے شراکت لرُو، اَؤ دَ هغهٔ دَ زوی عیسیٰ وینه مُونږ دَ هر یو ګُناه
نه پاکوی.

﴿٨﴾ که چرے مُونږ دا ووایُو چه بے ګُناه یُو نو مُونږ خپل ځان ته دوکه ورکوُو اَؤ په
مُونږ کښے رښتیا نِشته. ﴿٩﴾ که مُونږ دَ خپلو ګُناهُونو اِقرار کوُو نو هغه وفادار اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صادِق دے، اَوْ هغه به زمُونږ ګُناهُونه مُعاف کړی اَوْ دَ هر قِسم بدو نه به مو پاک کړی.
١٠ اَوْ که چرے مُونږ دا ووايُو چه مُونږ هيڅ ګُناه نۀ ده کړے نو مُونږ خُدائے دروغژن
کوُو اَوْ دَ هغۀ کلام په مُونږ کښے نِشته.

## مسيح زمُونږ شفاعت کوُونکے

٢ ١ زما بچو! دَ دغو خبرو دَ ليکلو نه زما مطلب دا دے چه تاسو ګُناه مه کوئ، خو
که چرے څوک ګُناه وکړی نو دَ پلار سره زمُونږ يو شفاعت کوُونکے دے، يعنے عيسىٰ
مسيح چه صادِق دے. ٢ هغه په خپله زمُونږ دَ ګُناهُونو کِفاره دے، نۀ يواځے زمُونږ دَ
ګُناهُونو بلکه دَ ټولے دُنيا دَ ګُناهُونو هم.

٣ که مونږ دَ هغۀ په حُکمُونو عمل وکړُو نو مُونږ ته معلُومه ده چه هغه پيژنو. ٤ که
څوک دا وائی چه "زۀ ئے پيژنم" اَوْ بيا هم دَ هغۀ په حُکمُونو عمل نۀ کوی نو هغه
دروغژن دے اَوْ په هغۀ کښے رښتيا نِشته. ٥ که څوک دَ هغۀ په کلام عمل کوی نو په
هغۀ کښے دَ خُدائے مينه کامله شوے ده. اَوْ داسے مُونږ ته معلُومه ده چه مُونږ دَ
خُدائے سره شراکت لرُو. ٦ هر هغه څوک چه وائی چه "زۀ دَ هغۀ په شراکت کښے
قائم يم،" نو په کار دی چه هغه دِ داسے ژوند تير کړی لکه څنګه چه مسيح تير کړے
وو.

## نوے حُکم

٧ خوږو دوستانو! زۀ تاسو ته څۀ نوے حُکم نۀ ليکم، دا هغه زوړ حُکم دے چه دَ
شروع نه تاسو سره دے. دا زوړ حُکم هغه کلام دے کُوم چه تاسو دَ مخکښے نه
آوْريدلے دے. ٨ بيا هم زۀ تاسو ته يو نوے حُکم ليکم چه هغه دَ مسيح په ژوندُون
کښے وليدل شو اَوْ په تاسو کښے هم، ځکه چه تيارۀ لرے کيږی اَوْ رښتينے نُور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځليږي.

٩ که څوک ووائي چه "زَهٔ په نُور کښے يم،" اَؤ هغه دَ خپل ورور نه نفرت کوی نو
هغه هم هغه شان په تيارهٔ کښے دے. ١٠ هر څوک چه دَ خپل ورور سره مينه لری،
هغه په نُور کښے ژوند تيروی اَؤ هغه هيچرے دَ تيندک سبب نهٔ جوړيږی. ١١ خو هر
څوک چه دَ خپل ورور نه نفرت کوی، هغه په تيارهٔ کښے ګرزی بلکه په تيارو کښے
ژوند تيروی اَؤ هغه نهٔ پوهيږی چه چرته روان دے ځکه چه تيارو دَ هغهٔ سترګے ړندے
کړے دی.

١٢ زما بچو! زَهٔ تاسو ته ليکم ځکه چه ستاسو ګُناهُونه دَ مسيح په نُوم معاف کړی
شوی دی. ١٣ اَئے پلارانو! زَهٔ تاسو ته ليکم ځکه چه تاسو هغه پيژندلے دے چه له ازل
نه دے. آے ځوانانو! زَهٔ تاسو ته ليکم ځکه چه تاسو په شرير، يعنے شيطان، غالب
راغلی يئ. اَئے بچو! ما تاسو ته ځکه ليکلی دی چه تاسو پلار پيژندلے دے.

١۴ اَئے پلارانو! ما تاسو ته ځکه ليکلی دی چه تاسو هغه پيژندلے دے چه هغه له ازل
نه دے. اَئے ځوانانو! تاسو ته مے ځکه ليکلی دی چه تاسو مظبُوط يئ اَؤ دَ خُدائے
کلام په تاسو کښے پاتے کيږی اَؤ تاسو په شرير غالب شوی يئ.

١۵ دَ دُنيا اَؤ دَ هغے دَ څيزُونو سره مينه مه لرئ، ځکه چه څوک چه دَ دُنيا سره مينه
لری، په هغهٔ کښے دَ خُدائے پلار مينه نِشته. ١۶ څهٔ چه په دُنيا کښے دَ نفسانی
خواهشاتو، يا دَ سترګو دَ شوق، اَؤ يا ژوند دَ کبر تاسو ته ښکاری، دا دَ پلار له لوری نهٔ
دی بلکه دَ دُنيا څيزُونه دی. ١٧ اَؤ دُنيا اَؤ دَ هغے شوق فنا کيدُونکی دی، خو څوک چه
دَ خُدائے په مرضئ عمل کوی هغه به تل تر تله پاتے کيږی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## خردجال

١٨ زما بچو! دا آخرى وخت دے! تاسو ته وئيلى شوى وُو چه خردجال راتلُونکے دے،
اَوُ اوس ډير خردجالان راپورته شوى دى، اَوُ له دے نه مُونږ ته معلُومه ده چه بے شکه
دا آخرى وخت دے. ١٩ هغوئ له مُونږ نه ووتل، خو په حقيقت کښے ئے زمُونږ سره
تعلق نۀ وو. که دوئ زمُونږ وئے نو مُونږ سره به پاتے شوى وُو، دوئ دَ دے دَ پاره بهر
ووتل چه دا ښکاره شى چه دوئ ټول له مُونږ نه نۀ دى.

٢٠ خو په تاسو رُوحُ القُدس نازل شوے دے اَوُ تاسو ټولو ته حقيقت معلُوم دے. ٢١
ځکه ما درته ليکلى نۀ دى چه تاسو دَ رښتياؤ نه ناخبره يئ خو تاسو پرے خبر يئ، اَوُ له
دے نه هم خبر يئ چه هيڅ دروغ دَ رښتياؤ نه نۀ دى.

٢٢ دروغژن څوک دے؟ هغه څوک چه وائى چه عيسىٰ مسيح نۀ دے، نو هغه خردجال
دے ځکه چه هغه دَ پلار اَوُ زوئے دواړو نه اِنکار کوى. ٢٣ څوک چه دَ زوئے نه اِنکار
کوى دَ هغۀ سره پلار هم نِشته، اَوُ څوک چه دَ زوئے اِقرار کوى نو دَ هغۀ سره پلار هم
شته.

٢٤ تاسو دَ اول نه چه څۀ آؤريدلى دى، هغه په زړُونو کښے وساتئ. څۀ چه تاسو
آؤريدلى دى، که هغه تاسو ساتلى وى نو تاسو به په خپله هم په زوئے اَوُ پلار دواړو
کښے پاتے شئ. ٢٥ اَوُ هغۀ په خپله مُونږ سره دَ تل ژوندُون لوظ کړے دے.

٢٦ زه دا خبره تاسو ته دَ هغه چا په باب کښے ليکم چه ستاسو دَ بے لارے کولو
کوشِش کوى. ٢٧ خو رُوحُ القُدس چه په تاسو دَ هغۀ نه نازل شو، که هغه په تاسو
کښے اوسى نو تاسو ته دَ بل اُستاذ حاجت نِشته. اَوُ دَ هر څۀ چه درته حاجت وى نو
رُوحُ القُدس به ئے درته ښائى، اَوُ څۀ چه درته هغه ښائى، رښتيا دى، نۀ چه دروغ، اَوُ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځنکه چه هغهٔ تعليم درکړے دے دغسے په هغهٔ کښے پاتے شئ.

## دَ خُدائے بچی

۲۸ اَئے بچو! اوس هم په هغهٔ کښے شراکت ولرئ، ځکه چه هر کله چه هغه ښکاره
شی نو مُونږ به په زړه ورتيا سره دَ هغهٔ په راتلو دَ هغهٔ په وړاندے شرمنده نهٔ يُو. ۲۹ که
تاسو په دے خبر يئ چه مسيح صادِق دے نو تاسو په دے پوهه شئ چه هر څوک چه
صداقت کوی دَ خُدائے بچی شی.

۳ ۱ پلار مُونږ سره څومره زياته مينه کړے ده چه مُونږ ته دَ خُدائے بچی ووئيلے
شُو اَؤ دغه شان مُونږ هم يُو. اَؤ دُنيا مُونږ ځکه نهٔ پيژنی چه هغه ئے هم نهٔ دے پيژندلے.
۲ خوږو دوستانو! مُونږ اوس هم دَ خدائے بچی يُو خو په دِے نهٔ پوهيږو چه څنګه به
شُو، خو مونږ په دے پوهيږُو چه هر کله چه عيسىٰ راښکاره شی نو مُونږ به دَ هغهٔ په
شان شُو ځکه چه مُونږ به ئے هم په هغه شان ووينُو څنګه چه هغه دے. ۳ هر څوک
چه په مسيح دا اُميد لری، هغه ځان داسے پاک ساتی لکه چه مسيح پاک دے.

۴ هر څوک چه ګُناه کوی، هغه نافرمانی کوی، ګُناه خو نافرمانی کول ده. ۵ تاسو
خبر يئ چه مسيح ځکه ښکاره شو چه ګُناهُونه لرے کړی، اَؤ په هغهٔ کښے هيڅ ګُناه
نِشته ۶ نو هر څوک چه په مسيح کښے قائم وی، هغه په ګُناه کولو آخته نهٔ وی، اَؤ هر
څوک چه په ګُناه کولو آخته وی، نهٔ خو هغهٔ ليدلے دے اَؤ نهٔ ئے پيژندلے دے.

۷ زما بچو! هيڅوک دِ تاسو بے لارے نهٔ کړی ځکه چه څوک چه صداقت کوی هغه
صادِق دے لکه چه مسيح صادِق دے. ۸ هر څوک چه ګُناه کوی، هغه دَ اِبليس بچے
دے ځکه چه اِبليس له ازل نه په ګُناه کولو کښے آخته دے. اَؤ دَ خُدائے زوئے له ازل
نه ځکه ښکاره شو چه دَ اِبليس کارُونه برباد کړی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ له خُدائے نه پیدا شوی هیڅ کله هم په گُناه کښے نۀ اوسیږی ځکه چه په هغۀ
کښے دَ خُدائے اصل قائم وی، اَؤ هغه گُناه کولے نۀ شی ځکه چه هغه دَ خُدائے بچے
دے. ۱۰ هم دغه دَ خُدائے دَ بچو اَؤ دَ اِبلیس دَ بچو فرق دے، هیڅوک هم چه صداقت
نۀ کوی دَ خُدائے بچے نۀ دے، اَؤ نۀ هغه څوک چه دَ وررور سره مینه نۀ لری.

## یو بل سره مینه لرل

۱۱ ځکه چه له شروع نه چه کُوم پیغام تاسو آؤریدلے دے، هغه دا دے چه مُونږ دِ دَ
یو بل سره مینه ولرُو. ۱۲ نۀ چه دَ قائین په شان جوړ شُو چه دَ شریر بچے وو اَؤ خپل
وررور ئے قتل کړو. اَؤ هغه ئے ولے مړ کړو؟ ځکه چه دَ هغۀ عمل بد وو اَؤ دَ هغۀ دَ
وررور ښۀ.

۱۳ زما ورُونړو! په دے حیرانیږئ مه که دُنیا تاسو سره دُښمنی کوی. ۱۴ مُونږ پوهیږُو
چه له مرگ نه په ژوندُون کښے شوی یُو په دے ځکه چه مُونږ له خپلو ورُونړو سره مینه
لرُو، اَؤ څوک چه مینه نۀ لری هغه لا تر اوسه دَ مرگ په حالت کښے دے. ۱۵ ځکه
چه هر هغه څوک چه دَ خپل وررور نه نفرت کوی، خُونی دے، اَؤ تاسو په خپله خبر یئ
چه یو خُونی هم په خپل ځان کښے دَ تل ژوندُون نۀ لری. ۱۶ په دے وجه مُونږ پوهیږو
چه مینه څۀ ده، ځکه چه مسیح زمُونږ دَ پاره خپل ځان ورکړو اَؤ مُونږ له هم په کار دی
چه خپل ځانُونه دَ خپلو ورُونړو دَ پاره ورکړُو. ۱۷ که څوک مالدار وی اَؤ خپل وررور
حاجتمند وینی اَؤ بیا هم زړۀ سواندے پرے نۀ کوی نو هغه څنگه دَ خُدائے مینه په خپل
زړۀ کښے لری؟

## دَ خُدائے په مخ کښے باور

۱۸ زما بچو! مینه دِ تش په خبرو یا په ژبه نۀ وی بلکه هغه په رښتیا اَؤ په عملی طور په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کار ده. ۱۹ هم دغه شان به مُونږ پوهه شُو چه مُونږ دَ حقیقت یُو، اَؤ دَ خُدائے په
مخکښے دا باور لرُو. ۲۰ که زمُونږ زړۀ مُونږ ملامتوی نو هم خُدائے زمُونږ دَ زړۀ نه
ډیر لوئے دے اَؤ له هر څۀ نه خبر دے. ۲۱ خوږو دوستانو! که چرے زمُونږ زړۀ مُونږ
نۀ ملامتوی نو بیا مُونږ دَ خُدائے په مخکښے باور لرُو. ۲۲ اَؤ څۀ چه ترے غواړُو هغه
ئے راکوی، ځکه چه مُونږ دَ هغۀ په حُکمُونو عمل کوُو اَؤ څۀ چه هغه خوښوی هم
هغسے کوُو. ۲۳ دا دَ هغۀ حُکم دے چه دَ هغۀ دَ زوی عیسیٰ مسیح په نُوم ایمان راؤړُو
اَؤ دَ هغۀ دَ حُکم په مُطابق دَ یو بل سره مینه ولرُو. ۲۴ هر څوک چه دَ خُدائے په
حُکمُونو عمل کوی نو هغه په خُدائے کښے قائم وی اَؤ خُدائے په هغۀ کښے. اَؤ هم
دغه شان مُونږ پوهیږُو چه هغه دَ رُوحُ القُدس په وسیله په مُونږ کښے اوسیږی چه په
مُونږ ئے نازل کړے دے.

## دَ خُدائے رُوح اَؤ دَ خردجال رُوح

۴ ۱ اَئے عزیزانو! په هر یو رُوح یقین مه کوئ بلکه هر یو ښۀ آزمیئ چه آیا هغه
سړے دَ خُدائے په رُوحُ القُدس خبرے کوی که نه؟ ځکه چه په دُنیا کښے ډیر دَ دروغو
نبیان راپورته شوی دی. ۲ دغه شان به مُونږ دَ خُدائے رُوح وپیژنُو چه که څوک دا
اِقرار کوی چه عیسیٰ مسیح په جِسم کښے راغلے دے، هغه دَ خُدائے له طرفه دے.
۳ اَؤ هر هغه څوک چه دَ عیسیٰ مسیح اِقرار نۀ کوی، هغه دَ خُدائے نه نۀ دے خو دَ
خردجال رُوح دے. تاسو ته وئیلی شوی وُو چه هغه راتلُونکے دے، خو هغه اوس هم په
دُنیا کښے موجُود دے.

۴ خو زما بچو! تاسو دَ خُدائے دَ کورنۍ یئ اَؤ تاسو په دے دروغژنو نبیانو غالب
شوی یئ، ځکه چه هغه څوک چه په تاسو کښے دے، هغه له هغه چا نه ډیر زوروَر دے
چه په دُنیا کښے دی. ۵ هغوئ دَ دُنیا دی اَؤ دغه شان دَ هغوئ خبرے دی، هم دغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وجه ده چه دُنیا دَ هغوئ آؤری. ٦ خو مُونږ دَ خُدائے یُو اَؤ څوک چه خُدائے پیژنی
هغه زمُونږ آؤری، اَؤ څوک چه دَ خُدائے نۀ دے، هغه زمُونږ خبرے نۀ آؤری. دغه شان
مُونږ حقیقی اَؤ گُمراهه رُوح پیژندلے شُو.

## خُدائے مینه دے

٧ خوږو دوستانو! راځئ چه دَ یو بل سره مینه ولرُو ځکه چه مینه دَ خُدائے له طرفه
ده، اَؤ هر هغه څوک چه مینه لری هغه له خُدائے نه پیدا شوے دے اَؤ خُدائے پیژنی.
٨ خو څوک چه مینه نۀ لری هغه خُدائے نۀ پیژنی، ځکه چه خُدائے مینه دے. ٩ اَؤ
دَ هغۀ مینه مُونږ ته په دے شان ښکاره شوه چه هغۀ دے دُنیا ته خپل یکی یو زوئے دَ
دے دَ پاره راولیږلو چه مُونږ دَ هغۀ په وسیله ژوندُون ولرُو. ١٠ مینه په دے کښے نۀ
ده چه مُونږ له خُدائے سره مینه وکړله بلکه په دے کښے ده چه هغۀ مُونږ سره مینه
وکړله، اَؤ زمُونږ دَ گُناهُونو دَ کِفارے دَ پاره ئے خپل زوئے راولیږلو.

١١ خوږو دوستانو! که خُدائے له مُونږ سره داسے مینه وکړله نو بیا مُونږ له هم په کار
دی چه دَ یو بل سره مینه وکړُو. ١٢ اګر چه خُدائے هیچا هم لیدلے نۀ دے، که چرے
مُونږ دَ یو بل سره مینه ولرُو نو خُدائے په خپله په مُونږ کښے اوسیږی اَؤ دَ هغۀ مینه به
په مُونږ کښے کامله شی.

١٣ په دے سبب مُونږ خبر یُو چه مُونږ په هغۀ کښے قائم یُو اَؤ هغه په مُونږ کښے، چه
هغۀ مُونږ ته خپل رُوحُ القُدس راکړے دے. ١٤ اَؤ دا مُونږ په خپله لیدلے دے اَؤ
ګواهی کوُو چه پلار خپل زوئے دَ دُنیا دَ خلاصُون دَ پاره راولیږلو. ١٥ که څوک دا
اِقرار کوی چه عیسیٰ دَ خُدائے زوئے دے نو خُدائے په هغۀ کښے قائم دے اَؤ هغه په
خُدائے کښے. ١٦ دغه شان مُونږ خبر یُو اَؤ یقین لرُو چه خُدائے مُونږ سره مینه لری.

خُدائے مینه دے اَؤ څوک چه په مینه کښے قائم وی، هغه په خُدائے اَؤ خُدائے په هغۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې پاتې کېږی. ۱۷ اَؤ په دے مينه په مُونږ کښې کامله شوې ده چه دَ عدالت په
ورځ مُونږ باور ولرُو، اَؤ دا ځکه لکه چه هغه دے مُونږ هم په دے دُنيا کښې يُو. ۱۸ په
مينه کښې ويره نِشته، کامله مينه ويره لرے کوی ځکه چه ويره په سزا پورے تعلق
لری. اَؤ هر هغه څوک چه ويرېږی، په هغهٔ کښې مينه کامله شوې نهٔ ده.

۱۹ مُونږ ځکه مينه کوُو چه اول خُدائے مُونږ سره مينه وکړله. ۲۰ خو که څوک دا
ووائی چه زهٔ دَ خُدائے سره مينه لرم اَؤ دَ خپل ورور نه نفرت کوی نو هغه دروغژن
دے، ځکه چه کُوم ورور ئے ليدلے دے، دَ هغهٔ سره مينه نهٔ لری نو دا نهٔ شی کيدے
چه خُدائے چه دَهٔ ليدلے نهٔ دے، دَ هغهٔ سره مينه ولری. ۲۱ بے شکه چه دا حُکم مُونږ
ته دَ مسيح نه راغلے دے چه هر هغه څوک چه دَ خُدائے سره مينه لری، دَ خپل ورور
سره دِ هم مينه لری.

## ايمان په دُنيا فتحمند دے

**۵** ۱ هر هغه څوک چه دا ايمان لری چه عيسیٰ هم مسيح دے، هغه له خُدائے نه پيدا
شوے دے. نو څوک چه دَ پلار سره مينه لری هغه هم دَ هغهٔ دَ بچی سره مينه لری. ۲
که مُونږ دَ خُدائے سره مينه لرُو اَؤ دَ هغهٔ په حُکمُونو عمل کوُو نو مُونږ خبر يُو چه دَ
هغهٔ دَ بچو سره هم مينه لرُو. ۳ ځکه چه دَ خُدائے سره مينه لرل دَ هغهٔ په حُکمُونو
عمل کول دی، اَؤ هغه څهٔ پيټے نهٔ دے. ۴ ځکه چه دَ خُدائے هر يو بچے په دُنيا
غالب دے. کُومه فتح چه دُنيا ته شِکست ورکوی، هغه زمُونږ ايمان دے. ۵ هغه څوک
په دُنيا غالب دے چه په دے ايمان لری چه عيسیٰ دَ خُدائے زوئے دے.

## دَ زوئے په باب کښې گواهی

۶ عيسیٰ مسيح هغه دے چه دَ اوبو دَ بپتسمے اَؤ دَ وينے سره راغے، اَؤ هغه يواځے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په اوبو سره نه، بلکه دَ اوبو اَؤ وينے سره راغے. اَؤ رُوحُ القُدس دَ دے ګواهي کوی
ځکه چه رُوحُ القُدس حقيقت دے. ۷ اَؤ درے ګواهان دی، ۸ يعنے رُوحُ القُدس،
اوبۀ اَؤ وينه، اَؤ دا درے واړه په يو اِتفاق دی. ۹ مُونږ دَ اِنسان ګواهي قبلوُو خو بے
شکه دَ خُدائے ګواهي ډيره غوره ده اَؤ کُومه ګواهي چه هغۀ دَ خپل زوی په حقله
ورکړه. ۱۰ هر هغه څوک چه دَ خُدائے په زوی ايمان لری نو دا ګواهي به دَ هغۀ په
خپل زړۀ کښے وی. خو څوک چه په خُدائے ايمان نۀ لری نو هغۀ خُدائے داسے
دروغژن وګڼلو چه دَ خُدائے خپله ګواهي دَ هغۀ دَ زوی په حقله ده، ايمان نۀ دے
راوړے. ۱۱ هغه ګواهي دا ده چه خُدائے مُونږ له دَ تل ژوندُون راکړے دے اَؤ دا
ژوندُون دَ هغۀ په زوی کښے دے. ۱۲ څوک چه دَ خُدائے زوئے لری هغه ژوندُون هم
لری، اَؤ څوک چه دَ خُدائے زوئے نۀ لری هغه ژوندُون هم نۀ لری.

## دَ تل ژوندُون پوهه

۱۳ دا خط تاسو ته دا يقين درکوی چه تاسو دَ تل ژوندُون لرئ ځکه چه تاسو دَ خُدائے
دَ زوی په نامه ايمان راوړئ. ۱۴ مُونږ په دے زړه ورتيا سره خُدائے ته ودريدے شُو
چه که مُونږ دَ هغۀ دَ مرضئ په مُطابق سوال ترے نه کوُو نو هغه زمُونږ آؤری. ۱۵ اَؤ
مُونږ په دے پوهه يُو چه خُدائے زمُونږ خبرے آؤری اَؤ مُونږ په دے هم پوهيږُو چه مُونږ
چه څۀ غواړُو هغه ئے راکوی.

۱۶ که څوک خپل ورور په داسے ګُناه کولو ووينی چه اَنجام ئے مرګ نۀ وی، نو هغه
دِ دَ هغۀ دَ پاره دَ خُدائے نه دُعا وغواړی اَؤ هغه به ورته ژوندُون ورکړی، يعنے هغو ته
چه دَ مرګ دَ پاره ګُناه نۀ کوی. داسے ګُناه هم شته چه اِنجام ئے مرګ دے اَؤ زۀ دا نۀ
وايم چه تاسو دِ دَ هغے په باب کښے دُعا وغواړئ. ۱۷ خو سره دَ دے چه ټول بد
کارُونه ګُناه دی خو داسے ګُناه هم شته چه اَنجام ئے مرګ نۀ دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ مُونږ په دے پوهه يُو چه هر څوک چه دَ خُدائے نه پيدا شوے دے په گُناه کښے نهٔ
اوسيږى، ځکه چه دَ خُدائے زوئے دَ هغهٔ حفاظت کوى اَؤ اِبليس هغهٔ ته ورنزدے
کيدے نهٔ شى. ۱۹ مُونږ په دے پوهه يُو چه مُونږ دَ خُدائے کورنئ يُو، اَؤ ټوله دُنيا دَ
شرير په قبضه کښے ده.

۲۰ مُونږ په دے خبر يُو چه دَ خُدائے زوئے راغلے دے اَؤ مُونږ ته ئے دا پوهه راکړے
ده چه هغه وپيژنُو چه رښتنے دے. مُونږ بے شکه په هغهٔ کښے يُو چه رښتينے دے
ځکه چه مُونږ دَ هغهٔ په زوى عيسىٰ مسيح کښے يُو. هغه رښتينے خُدائے اَؤ دَ تل
ژوندُون دے.

۲۱ زما بچو! دَ دروغو خُدايانو نه خبردار اوسئ.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.